ښاغلی Diijon DaCosta, Sr.، *د بورډ رییس*
آغلي Deirdre P. Pierce، *مرستیاله رییسه*
Anna Hill مېرمن
Whitney McGinniss مېرمن
Allyson Gevertz آغلي
Vickie B. Turner مېرمن
Joyce Morley ډاکټر

DeKalb County
School District
ډاکټر Devon Q. Horton، *آمر*

**د سمدستي خپرولو لپاره**

14 اکتوبر 2024

**د اړيکو معلومات:**
Donald Porter, *Ed.D.* 678-481-4110
Carla Parker 404-734-1717

# GSBA د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالي په حکومتولۍ او د زده کوونکو د بریا په برخه کې د غوره لاسته راوړنو له امله *د ښوونځي د لوړ کیفیت بورډ جایزې* په ورکولو سره ویاړله

(STONE MOUNTAIN, GA) – تیره اونۍ، د Georgia د ښوونځي بورډونو اتحادیې (*GSBA*) اعلان وکړ چې د DeKalb کاونټي ښوونځي بورډ د اداري او رهبرۍ په برخه کې د اساسي معیارونو د تطبیقولو لپاره د خپلې ژمنتیا په نتیجه کې *د 2024 کال د ښوونځي د لوړ کیفیت بورډ جایزه* ترلاسه کړې ده او د يادې جايزې په ترلاسه کولو سره يې د ولسوالۍ د هغه ښه والي او پرمختګ لپاره اساس چمتو کړ چې جریان لري. دا معتبره جایزه د اداري د مهمو کړنو د تقویې او د ملاتړ چاپېریال رامنځته کولو لپاره د بورډ ژمنتیا په ګوته کوي په داسې حال کې چې قوي رهبري د زده کوونکو په بریا کې مرسته کوي.

د بورډ رييس ښاغلي Diijon DaCosta, Sr. وویل چې "دا جایزه د همکارۍ ځواک، د سخت زیار ایستلو او د غوره والي لپاره د ګډې ژمنې څرګندونه کوي،" "مشرتوب له ترټولو لوړ مقام څخه پیل کیږي او د یو متحد بورډ په توګه موږ د خپلې راکړې ورکړې څرنګوالي کې بدلون رامنځته کولو ته ژمن یو— ترڅو خپلې ټولنې سره د باور رامنځته کولو پرمهال د غوره والي، روڼتیا او مسؤلیت کلتور مخ پر وړاندې ویسو. دا جایزه د تعلیمي پایلو د لوړولو لپاره زموږ د هڅو پیاوړې اغیزې په ګوته کوي. د ورځې په پای کې زموږ تمرکز د هغه څه په ترسره کولو باندې وي چې زموږ د ماشومانو لپاره غوره وي ترڅو په خپله ولسوالۍ کې د هغوی بریالیتوب او هوساینه ډاډمن کړي."

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ آمر ډاکټر Devon Q. Horton له دې سره موافق دی.

ډاکټر Horton وویل چې "د 2024 کال د لوړ کیفیت ښوونځي بورډ جایزه ترلاسه کول زموږ د پوهنې بورډ لپاره یوه مهمه پیښه ده." "دا په DeKalb کاونټي کې د لوړ کیفیت زده کړې چمتو کولو لپاره د اړینو اړتیاو ترسره کولو لپاره زموږ د ماموریت اساس په خاطر زموږ هغه مؤثره اداره او رهبري په ګوته کوي کوم چې مخ په زیاتیدو دي. دې اصولو ته زموږ د بورډ ژمنتیا په مستقیم ډول زموږ د زده کوونکو او کارمندانو په بریا اغیزه کوي. زه په دې ویاړم چې ژمنه لرونکي مسلکي کسانو له دې ډلې سره کار کوم."

د جایزې د یوې برخې په توګه به GSBA د دسمبر په میاشت کې په Atlanta کې د 2024 کال GSBA/GSSA کلني کنفرانس کې د ترلاسه کوونکو ستاینه وکړي.

د Georgia آمرانو او د بورډ غړو د GSBA د اداري ډلې د جایزې برنامه رامنځته کړې ترڅو د دولتي بورډ معیارونو پراساس د ښوونځي د عالي بورډ رهبران ولمانځي. په 1998 کال کې د خپل پیل راهیسې دا برنامه د اداري د غوره والي یو معیار دی په داسې حال کې چې د تعلیمي حکومتدارۍ معیارونو په برخه کې Georgia د ملي مشر په توګه رامنځته کوي.

مهرباني وکړئ [د ویب پاڼې د GSBA انعامونو برخې څخه لیدنه وکړئ](#) ترڅود GSBA انعامونو او جایزو برنامو په اړه یا د بورډ ټولو کچو په خاطر د بشپړ معیارونو لیدو لپاره لا زیات معلومات ترلاسه کړئ.

XXX

د Robert R. Freeman اداري ټولګه
1701 Mountain Industrial Blvd. | Stone Mountain, GA 30083
678.676.1200 | www.dekalbschoolsga.org